# اروابناد سیلاب ساپی د شعرونو بیلګی

## لېونی مینې

لیونی مینې کړم اشنا د بیابانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو
اوس راته غرونه ګړنګونه
ښکاري د مینې محلونه
د غره په سر کېږدی وهمه دجانانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو
د چا د شوخ نظر لپاره
په غرونو ګرځم ناکراره
ماته دی غوره ببر سر خیرې ګرېوانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو
د لېونی مینې د لاسه
ناست یم د غم د غره له پاسه
د تصور په ټال زنګیږم د خپل ځانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو
مینه کې دومره بې پروا یم
چې اوس خوشاله په سارا یم
د مینې شور مې لړېدلی د اسمانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو
(سیلابه) زړه راته ژړیري
وړې سلګی مې نه ودریږي
اخر به لاړ شم له دنیا نه د ارمانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لېونی په غرونو

HOWD

## دسترګو

ستا دسترګو بلا واخلم بیادې سترګې ولې سرې دي
پام چې واردې خطا نشي مامنلې غرغرې دي

دارزو جو په باريړي حوصلې وهي خنجکې
دامید په قافله کې شروع نوې نغارې دي

ستا د مینې خزانه بس زما ژوند ته بهانه ده
ګوندې وخته مالیدلي په خپل سر خاورې ایرې دي

نازولې لیلا راشه! دمجنون ګریوان ته ګوره
داباران دملغلرو که داوښکو فوارې دي

مخ دې بلې لمبې کاندي خوله دې ګل شي بیا غونچه شي
ځکه ماته ډېرې ګرانې دپتنګ بلبل نخرې دي

پس له ډېره لت او کوبه ستا له تلو قربانیږم
دنکریزو په جامه کې مې قربان دزړه قطرې دي

چې په ژرنده مې ځان وړه کړو نو ایله مې وصال بیا موند
درنجو په نوم مې کړي ستا دسترګو ننداري دي

چې ارې ته مې سر ورکړو نو اور بل کې په خندا شوم
دړومنځ په رنګ شکل کړي زلفې ما خورې ورې دي

مبارك دې شه سیلابه ! دوصال استائى راغى
درېبار سره دې کړي اشنا نوې مشورې دي

## غزل

پـرسـاان لــه راشـه
لــه هـجـره مــرمـــه
شـالـیلا شـالـیلا

HOWD

ستا د زلفانو ځنځیر
غماز ته ورکړم دستګیر
د هجر جبل کې ژړا کوومه
شالیلا شالیلا

راشه پرسان له یاره
راوړه درمان نګاره
ارمان مې ته یې آرزو لرمه
شالیلا شالیلا

ستا په درګاه یم فقیر
ولاړ د وصل سوالګېر
دا سوال منظور که په تمه تمه
شالیلا شالیلا

سیلاب رنځور اوپر کال
شومه د مینې په خیال
د عشق په ټال کې ټالی وهمه
شالیلا شالیلا

## هغه بینا څه کوم

چې دتېګی دامونه ړدي هغه اشنا څه کوم
چې حقیقت نه ښکاروي هغه ملا څه کوم
دعدالت او مساوات نه چې بیرون اوسېږي
هغه ژوندون هغه قانون هغه دنیا څه کوم
چې ترحم عاطفه لطف په مسکین نلري
هغسې خپل او هغه سیټ هغه بینا څه کوم
په فقیرانو مسکینانو چې تیری کوي تل
هغه ظالم هغه جابر او بې وفا څه کوم
چې جامعې ته په کې نفع یو بڅری نه وي
دتملق او چاپلوسی چټي وینا څه کوم
چې په تنګسه او بی وسی کې مې پکار نشي یو

داســــــــــې خپلوان له ما بې غم او بې پروا څه کوم
چې د رحمت او فيض باران په کې يو څاڅکی نه وي
دا بــــــــــې اميده باد و ګرد رعد او برېښنا څه کوم
چــــــــــې ورځ پــــه ورح مزخرفاتوته ترويج ورکوي
داســــــــې ســــپين ګيری کلټر او شش کلا څه کوم
چــــې غــــــلا زنا قمار هيڅ باك نه ګڼي تل يې کوي
کــــــــه افــــلاطــون وي په حکمت نو دا دانا څه کوم
چې ديـــــــن مذهب يې مزخرف بلي عامل يې وي دی
د نــــــــــاروا لــــــيـــــــارې مـــــــلګری رهنما  څه کوم

## دمينې په زانګو کې ټالی

په دنيا دي ډېر تېر شوي عاشقان
رښتياني ووعاشقی کې صادقان

هر يو دی تر خپل مرامه رسېدلی
څکه اور باندې ځان سيځي پتنګان

شهزاده سيف الملوك بدری جماله
د يوسف او زلېخا حال دی عيان

چې مجنون يې لېونی ملنګ کړو خلکه
د ليلا وې تورې سترګې تور زلفان

شهزاده بهرام ګوره سودايي کړ
سپين مړوند د ګل اندامې سورپېزوان

که قصه چا د ممتاز وي اورېدلي
بې نظيرې پسې تل وو په ګرېان

عاشقي وه د فرهاد او د شيرينې
په درخو باندې مين وو ادم خان

محبوبا چې جلاتي پسې سپره شوه
خوشالي پرې وکړه ستورو د آسمان

HOWD
هېود

شهزادګی ګنبد شام ته نظر وکړه
تر قیامت یې لاس په نام دی هغه خوان

فتح خان او درابیا قصه وګوره
شه خبر له ګلمکی او موسی خان

مومن خان دشیرینی ورونو وژلي
چې ښکاره وو لکه لمر په دې جهان

تور دلی دشهی ګلې شیرین یاروو
صنوبر په زړه کې تل وه ګل ارمان

را په زړه کړه خادیخان او بیبو دواړه
چې مابی وه معشوقه د ظریف خان

که د دوه سترګو دیدن د اشنا غواړې
صدقه کړه پسې مال اولاد او ځان

چې محروم د یار له وصله همیشه دی
له ډېر غمه عاشقان شو شاعران

چې د مینې په زانګو کې ټالی خورمه
یم "سېلاب" ځای مې کامه کې ارباپان

## میخانه

چې په زړه مې د عشق نارشو را شریك
خاص جنون مې په افکار شو را شریك

زړه مې و چاوده له ډېرې وسوسې نه
چې اغیار مې په دیار شو را شریك

تخیل کې مې رنګینې افسانې وې

چې دغم په شپه سحار شو را شريك

دستي مست او لېونی شومه عالمه
د وصال په شپه چې يار شو را شريك

زه د مينې په زانګو کې پروت نيشه وم
په خندا خندا نګار شو را شريك

زه ويده وم د مستانو ميخانه کې
چې دلبر مې مست خمار شو را شريك

د وصال بازار مې واړه معطر شو
چې د زلفو پرې يو تار شو را شريك

تصور پوړی مې واړه زر زرې شوې
چې کوم دم نازك رفتار شو را شريك

د زړه باغ باندې مې نوې بهار راغی
په ګلزار د زړه ماليار شو را شريك

خاوره بوټی که غوټی نيالګی زرغون شو
چې پرې يار شيرين ګفتار شو را شريك

"سېلاب" وايې نوی روح را کې پيداشوه
چې اشنا مې په سينګار شو را شريك

## د عشق کتاب

يو ځل لرې کړه له مخ څنې نقاب
چې مې لرې له وجوده شي عذاب

خوبه ګرځمه رنځور په زړه نګاره
د هجران په اوربدن مې شو کباب

ستا د مينې په روضه کې مجاور شوم

HOWD هوډ

چې شروع مې کړلو ستا د عشق کتاب

د مستانو له ټولي به هله شمارشم
چې نېشه مې کړي دسرو شونډو شراب

عاشقان به مې په ډله هله پرېږدي
چې نوکر شمه دزلفو د نواب

## ژاړمه اوس ژاړمه

ژاړمه اوس ژاړمه
جام د محبت ديار
زه يم ورپسې بيمار
ترې کور ته لاړمه
ژاړمه اوس ژاړمه

مينې کړم د يار ملنګ
ګرځي رانه تل په خنګ
خپلې غوښې داړمه
ژاړمه اوس ژاړمه

راشه شالېلى ځما
شکلې محبوبا ځما
ستا په وصل وياړمه
ژاړمه اوس ژاړمه

مينه کې کباب يمه
سوى زه سېلاب يمه
تار دزلفو غواړمه
ژاړمه اوس ژاړمه

HOWD
هـــود

## غزل

راشه ساقي يو ځلی ډک د ميو جام راکړه
خمار د عشق نيشه جذبه د انتقام راکړه
خدايږو دنيا نه يم مايوس سترګی می تاته اوړي
نسيمه پريږده تغافل نوی پيغام راکړه
ځو به خوږمن په زړه دردمنداو لوغړن ګرځمه
مطربه راشه د خوشی نوی الهام راکړه
ناصحه ته افلاطونی درسونه ځانته وايه
ماته دخيال په ننداړتون کې ګل اندام راکړه
چې حوصلی مې فيصلی د مشکلاتو وکړي
ماته په دغه سلسله کې لوړ مقام راکړه
چې پړاوونه کړاوونه راته يو قدم شی
داسې نظر داسې وزر د عشق په نام راکړه
يا مې زړ پورته کړه له خاورو د خودی معراج ته
يا مې کړه شمار په ليونو کې نوم د سرسام راکړه
په کار مې نه دی سره او سپين ماڼی بنګلی نه غواړم
ليونی مينه د مجنون او د بهرام راکړه
يا مې په برخه کاميابی کړه چې ښادی وکورم
يا خودی ژوند د ناکامی لره انجام راکړه
چې د پتنګ غوندی لوګې شم په طواف د اشنا
خدايه (سيلاب) ته زړ قدرت د دی احرام راکړه

## ډيوه ځاندی

بی وصاله زما بله سودا نشته
بی له ياره زما خوب وخندا نشته
حکيمان فيلسوفان ټول راته وايی
بی نګاره درته دم او دوا نشته
زه چې ځان بولم مجنون مجنون هر دم کی
خدايږو ستا په شان هم بله ليلا نشته
تصور او که می خوب او که می خيال دی
بی له هجره په کی بله ژړا نشته

هوډ
HOWD

دم په دم می غم په غم باندی زیاتیږی
داشنا راباندی نیله پروا نشته
پتنګ وسوځی ایره شی باد یی یوسی
ډیوه خاندی وایی ماله ګناه نشته
ستا په عشق کی ما منلی همه واړه
غیر له مینی ماله بله کیمیا نشته
ای (سیلابه) په امید که د وفایی
په اشنا کی دی بخرکی وفا نشته

یو مې ناز بل جفا ځوروي
رنګ په رنګ مې آشنا ځوروي

خیال او هوس رانه یاغي دي دواړه
شوخ نظر مې نن بیا ځوروي

خلك به د هجر کړاوونه ژاړي
ما خو کړس کړس خندا ځوروي

په مینه مینه راته مه ګوره نور
بیا مې دا تماشا ځوروي

سېلابه بیا څه لېونی غوندې شوې
چې تش خیال دې د چا ځوروي

www.howd.org